**(F) برخه: د پانګه اچونې اهمیت یا ارزښت**

**لومړی لوست:دپور غوښتلو د مفهوم درک کول یا په پور د پیسو غوښتل پول**

**(Concept of Borrowing Money)**

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه:** زده کونکي به ددي لوست په جریان کي د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:

**۱** - په دي باندې پوهیدل چي پور یا قرضه ورکونکی په پور یا قرضه اخستونکې کي کومي ځانګړتیاوي پلټي.

**۲** – د یوه ښه قرضه یا پور ورکونکی د ښو ځآنګړتیاوو درک او زده کړه.

**۳** – د قرضي یا اعتبار (credit)د تعینولو او بنسټ ګذارۍ مفهوم څه دی

۴ – د قرضې یا پور د مصارفو محاسبه کول.

**د لوست ورکول لپاره وړاندېز شوی وخت:** 1 ساعت

**وړاندیز شوی منابع:**کیدلی شي چي لاندې منابع یا زیرمي په دي لوست کي ګټور واقع شي:

ددي لوست د رسمي پلان د کمپیوټر په پاورپواینټ پروګرام کي هم آماده شوی دی

*Decisions & Dollars*. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder, Unit 1)

Gibson, Jerry D., et al. *Agribusiness: Management, Marketing, Human Resources Development, Communication, and Technology.* Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2001. (Textbook, Chapter 2)

*High School Financial Planning Program*. National Endowment for Financial Education and Cooperative Extension Service, 1992.

Barry, Peter, Paul Ellinger, John Hopkin, and C.B. Baker. *Financial Management in Agriculture*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1995.

**د سامانونو، لوازمو، شیانو او اسانتیاوو فهرست یا لړلیک**

د لیکلو لپاره تش یا خالي سپینه ورقه

د پاورپواینټ په خاطر پراجکتور یا غټ ښودنکی

د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي

روښانه سلایدونه یا صفحي

د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني به په دي لوست کي تر استعمال لاندې راشي(ذکر شوي اصطلاح ګان د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کي وړاندي شوي دي):

- Add-on interest پرسود باندې زیاته

- Collateral وثیقه یا تضمین(ضمانت)
- Credit rating داعتبار میزان( د ښه معاملې کولو د میزان براورد او د شخص د اعتماد وړ کیدل چي بانکونه او وام ورکونکي او نور باندې پوهې ته اړتیا لري)
- Interest in advance له پرداخت څخه دمخه سود
- Lender قرض یا پور ورکونکی
- Percent per month په میاشت کي فیصد یا سلنه
- Simple interest ساده سود ( چي یوازې له اصل پیسو سره تعلق لري نه د هغې فایده یاګټه)

**په زړه پوري تکلاره**:له دوه زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي تمثیلي پارچه اجرا کړي. یو زده کونکی د بانک له افسر څخه د موټر د اخستلو لپاره قرض یا پور غواړي. له دي نه وروسته چي تمثیلي پارچه ختمه شوه، له زده کونکو څخه وغواړئ چي خپل وړاندیزونه د سوالونو په برخه کي مطرح کړي. بحث په داسې توګه جوړ یا عیار کړئ چي د لوست د لومړۍ موخې په لوري حرکت صورت ونیسي.

## د محتویاتو خلاصه او د لوست ستراتیژي ګاني

**لومړۍ موخه:**ددي امر زده کړه او پوهه چي قرض یا پور روکونکی په قرض اخستونکی کي کومو ځانګړتیاوو پسي پلټنه کوي.
**وړاندیز شوی مسله:** قرض یا پور ورکونکی په قرض یا پور اختستونکی کي کومي ځانګړتیاوي ګوري یا مشاهده کوي؟

(د پاور پواینټ ۳ شمیره سلاد)

**۱ - قرض یا پور ورکونکی (*lender*) له هغه نهاد یا شخص نه عبارت دی چي پیسي په قرض یا پور ورکوي.**

(د پاور پواینټ ٤ شمیره سلاد)

**الف )** قرضه یا پور اخستونکی باید چي د ښه شخصیت لرونکی وي.

- د قرضې یا پور ورکونکی شخصیت عبارت له ښه او غوره شهرت او محبوبیت نه دی.
- معمولاً قرض یا پور ورکونکی معرفي نامه یا سپارښت لیک له قرض اخستونکی څخه غواړي.

**ب)** د قرض یا پور اخستونکی وضیعت او مالي موقف د قرض یا پور ورکونکی لپاره د اهمیت یا ارزښت لرونکی دی.

- د شتمنیو، قرضونو یا پورونو او نورو فهرست لیکل د قرض یا پور ورکونکی لپاره مهم دي ترڅو د قرض اخستونکی مالي موقف تعین یا وټاکي.

- قرض اخستونکی باید ثابت کړي چي د قرض یا پور د بیا ورکړي ظرفیت او توانایي لري.

- ❖ میاشتنۍ بودیجه معمولاً د بیا کتنې لاندې قرار نیسي.
- ❖ قرض یا پور ورکونکی غواړي چي پوه شي چي قرض یا پور اخستونکی میاشتنۍ کافي لاسته راوړنه لري ترڅو چي خپل مالي مسوولیتونه او وظیفي تکیمل کړئ.
- ❖ د قرض یا پور مصونیت او محفوظیت یو بل محلوظ دی د قرض ورکونکی لپاره

(د پاور پواینټ ٥ شمیره سلاد)

١ - قرض یا پور ورکونکی اداره یا موسسه باید پوه شي چي که چیري قرض ورنه کول شي، نو د بیا په لاس راوړنې لپاره د بدیل لاره مخکې له مخکې څخه فکر وکړي.
٢ - تضمین له هغه شتمنۍ نه عبارت دی که چیري د ضرض بیرته ورکول صورت ونه نیسي، د هغې په بدل کي شتنمني اخستل کیږي.
٣- غیر منقوله شتمني او عراده جات(موټر) معمولاً د تضمین په ډول د کور او موټر لپاره په ګرو شکل یا وثیقې سره قرار نیسي.
٤ - د تفریح د مصارفو په خاطر قرض یا پور شاید تضمین ته ضرورت ولري.

له **TM: 1-1** درسي موادو څخه په استفادي سره دیو قرض یا پور اخستونکی مشخصات یا ځانګړتیاوي تشریح او روښانه کړئ.
**دوهمه موخه یا هدف :**دیوه ښه قرض یا پور ورکونکی د ښو مشخصاتو یا ځانګړتیاوو زده کړه او درک.
**وړاندیز شوی مسله:** قرض ورکونکی باید کومي ښي ځآنګړتیاوي او صفتونه ولري؟

(د پاور پواینټ ٦ شمیره سلاد)

- قرض اخستونکی باید قرض یا پور روکونکو ته د راحت احساس ورکړي او له هغې سره اعتبار ولري.
- قرض یا پور اخستونکی باید چي لاندې سوالونه او معلومات له ځان سره مطرح کړئ چي :
- آیا دا قرضه یا پور ورکونکی په ټولنه کي ښه شهرت لري او یا نه؟
- د قرضه یا پور ورکونکي پالیس مطالعه او وازمویي.
- د قرضه ورکونکي نهاد همیشګي دي وګوري.
- د قرض یا پور مجموعي مصارف ملاحظه یا وکتل شي.
- ځني قرضي یا پورونه شاید په مارکیټ کي وپلورل شي.
- آیا ګرو کول بیمي ته اړتیا لري او که نه؟
- آیا د قرضه یا پور ورکونکی کار ساعتونه په راحت کي دي او که نه؟
- د قرضه یا پور ورکونکی نهاد له کومه وخته په دي خوا په کاروبار کي مصروف وي؟
- د هریو نهاد د سود اندازه توپیر کوي چي باید هغه په نظر کي ونیول شي.

له **TM: 1-2**درسي موادو نه په استفاده کولو سره د یوه ښه قرضه یا پور ورکونکي مشخصات یا ځانګړتیاوي تشریح او روښانه کړئ.
دریمه موخه یا هدف: د قرضي یا اعتبار (credit) تعینول یا اساس کذاري کول څه دی
**وړاندېز شوی مسله: په څه ډول سره زه کولی شم د قرض یا پور اعتبار برقرار کړم؟**

١ - قرض یا پور ورکونکي اداري یا ټولنې د قرض یا پور بیرته ورکولو لپاره د میلان او توانایي ثبوت غواړي.
الف ) په دي برخه کي هغه اقدامات صورت نیولی شي چي د اعتبار میزان ***credit rating*** يي( د ښه معامله کولو د براورد میزان او دشخص د اعتمادي کیدلو قابلیت چي بانکونه او وام ورکونکي او نورو وپیژني، ورته اړتیا لري) قرض یا پور اخستونکی یي په لاس راوړي .

(د پاور پواينټ ۷ شميره سلاد)

**۱** - تازه(د اخري اطلاعاتو مطابق) مالي پلان(بوديجه) بايد وساتل شي ترڅو چي د تنظيم او پيسو د اداري توانايي په اثبات ورسوي.
۲ - د قسطي تادياتو ( lay-away plan)په اساس و پيرئ ترڅو چي ميلان موي د تاديه په برخه کي وښودل شي

(د پاور پواينټ ۸ شميره سلاد)

**الف )** کله چي په تاديه کي د حساب صورت يا بلونه له ستونزو سره مخامخ کيږي نو هغه تر وخت او زمان پوري تاديه کړي غوره دا ده چي له قرض اخستونکی سره تماس برقرار کړئ او د بديل لاري د قرض د بيا ورکړي لپاره برابرې کړئ.

د قرضې يا پور د اعتبار د برقراره کولو په خاطر له **TM: 1-3**درسي موادو څخه استفاده وکړئ. زده کونکو ته وظيفه ورکړئ ترڅو له کاري صفحې نه په استفادې سره د قرض يا پور غوښتنې په برخه کي تحقيق وکړي.

**څلورمه موخه يا هدف:** د قرضې يا پور د مصارفو محاسبه کول.
**وړانديز شوی مسله:** په قرضه يا پور کي کومي نوعي د مصارفو داخلي دي؟

**۱ – قرضونه يا پورونه معمولاً له مصارفه پرته نه ورکول کيږي.**

(د پاور پواينټ ۹ شميره سلاد)

**الف )** د کلنی فيصدي يا سلنې ميزان(APR) عبارت له سودي ورکړي څخه دی چي د قرضې په مقابل کي په يو کال کي ورکول کيږي.
(APR) =annual percentage rate

(د پاور پواينټ ۱۰ شميره سلاد)

**ب ) ساده سود ( *Simple interest* ):**د سودي تګلاري يا روش له محاسبه کولو نه عبارت دی چي په ناتصفيه شوی ميزان( outstanding balance) باندې د ورځو لپاره په کومو کي چي پيسي تراستفادي لاندې نيول شويدي مطالبه کيږي. يا ساده سود له هغه سود نه عبارت دی چي د اصلي پيسو په مقابل کي ورکول کيږي.

(د پاور پواينټ ۱۱ شميره سلاد)

**۱ -**درصپه هغه صورت کي چي تاسې ۵۰۰۰۰ افغانۍ د يو کال لپاره د اوه فيصدو يا سلنې سود په مقابل کي قرض يا پور اخستونکی ته ورکړي وي، تاسې مياشتنۍ تاديه کول ۴۴۵۸،۳۳ افغانۍ کيږي( ۵۰،۰۰۰ ×۱،۰۷ ÷ ۱۲).که چيري تاسې له پرداخت نه وروسته لومړۍ قرضه تاديه کړي وي پس تاسې ۴۵،۸۳۳،۳۳ افغانۍ ورکوئ. [۵۰۰۰۰ – (۵۰۰۰۰ ÷۱۲)]

(د پاور پواینټ ۱۲ شمیره سلاد)

**الف )** په سود باندې علاوه کول(Add-on Interest): په دي صورت کي قرضدار سود د قرض يا پور د ټولې اندازې لپاره د کاملې مودي په خاطر چي پیسي په قرض ورسره وي، تادیه کوي. په داسې نوعو قرضو یا پورونو کي د سود غوښتنه په همغه وخت کي چي قرضه ورکول کیږي صورت نیسي، اصلي پیسي او سود سره جمع کیږي او په مساوي توګه د پرداختونو په شمیر باندې تقسیمیږي چي باید صورت ونیسي.

(د پاور پواینټ ۱۳ شمیره سلاد)

**۱** - که چیر تاسې ۵۰،۰۰۰ افغانۍ د دوه کالو لپاره د ۷ فیصده سود سره قرض اخستي وي، له تاسو څخه مجموعاً ۷۰۰۰ افغانۍ په هريو پرداخت کي په سود غوښتل کیږي (۵۰،۰۰۰ ×۰،۷ × ۲)

(د پاور پواینټ ۱٤ شمیره سلاد)

**الف ) په یوه میاشت کي فیصدي یا سلنه (Percent Per Month)**، سود په اساس د میاشت په میاشت په نا تادیه شوی بلانس باندې محاسبه کیږي.

- ❖ په سود باندې په اندازه د ۱۵،۰۰۰ شاید ۱/۲٪په یوه میاشت کي، ۲ فیصده تر ۲۵،۰۰۰ افغانیو پوري وي، او تر ۵۰،۰۰۰ افغانیو پوري % ½ 1 غوښتنه وي او له ۵۰۰۰۰ څخه په اضافه باندې یو فیصد یا سلنه وي .

(د پاور پواینټ ۱۵ شمیره سلاید)

**الف ) مخکې ترمخکې سود ورکول (Interest in Advance)** ، د قرضې یا پور په دي نوعه کي سود محاسبه کیږي، او مخکې له دي چي قرض اخستونکی واقعي پیسي په لاس راوړي له اصلي پیسو نه منفي کیږي.

- ❖ که چیري یو قرضدار ۵۰،۰۰۰ افغانۍ د قرضي په توګه د یو کال لپاره په مقابل د اوه فیصده سود کي واخلي، په دي نوع قرض کي د هغې له سود یوازې ٤٦،٥۰۰ افغانۍ د قرضي په پیل کي په لاس راوړي.

زده کونکو ته وظیفه ورکړئ ترڅو د سود غوښتنې تفکیک یا جلا کړي هغو کولی شي په دي برخه کي له (**WS 1-2**)کار صفحې څخه استفاده وکړي. په هغه صورت کي چي امکان ولري د بانک له افسر څخه د قرض غوښتنه وکړئ ترڅو هغوي په لنډ ډول سره د لوست موخي یا هدفونه د ټولګي لپاره تشریح کړي.

**مرور یا بیا کتنه ۱خلاصه یا لنډیز:**ددي لوست د لنډیز کولو په خاطر د زده کونکو له زده کړو موخو یا هدفونو څخه استفاده وکړئ زده کونکي د هري موخې پوري مربوطه محتویاتو په خاطر وغواړئ. د زده کونکو له ځوابونو څخه کولی شئ چي په اساسي شکل د موخو د تعین لپاره چي باید د تجدید نظر لاندې ونیول شي قرار ورکړئ یا له مختلفې زاوي څخه تدریس کړل شي، استفاد وکړي. د پاور پواینټ له ۱٦ شمیري سلاید څخه هم په دي برخه کي استفاده کیدلی شي.

**تراجرا لاندې نیول:** د ارجرا لاندې نیولو په خاطر کیدلی شي چي د زده کونکو لاندې فعالیت په برکي ونیول شي: له ضمیمه شوو صفحو څخه استفاده وکړئ.

WS: 1-1 Comparing Credit Applications

WS: 1-2 Calculating Interest Charges

**ارزیابی:** ارزیابی باید د زده کونکو په اشنا کیدونو موخو یا هدفونو باندې متمرکزه وي. مختلفي تګلاري د زده کونکو د ارزیابۍ لپاره شتون لري، مثلاً د زده کونکو اجرات په فعالیتونو کي او یا په دي برخه کي کیدلی شي چي له لیکلې بڼي ازموینې له نموني نه هم د زده کونکو د اشنا کول لپاره ددي موخو یا هدفونو په خاطر استفاده صورت ونیسي. په لکیلې بڼه ازموینه له دي سند سره تړلی ارایه شوی ده.

**نمونه ئي ازموینې ته ځوابونه**

**مطابقت دادن**

1. F
2. B
3. G
4. A
5. C
6. E
7. D

**تش یا خالي ځایونه ډک کړي!**

1. Character شخصیت
2. Repayment capacity د بیا ورکړي ظرفیت
3. Secondary market دوهمي مارکیټ
4. Annual percentage rate
5. Mortgage insurance د ګرو کولو بیمه

**لنډ ځواب**

۱ - تازه(د اخري اطلاعاتو مطابق) مالي پلان(بودیجه) باید وساتل شي ترڅو چي د تنظیم او پیسو د اداري توانایي په اثبات ورسوي. د قسطي تادیاتو ( lay-away plan)په اساس و پیرئ ترڅو چي میلان موي د تادیه په برخه کي وښودل شي .

1. 1,000,000 × .049 ×4 = 196,000 AFN
   196,000 + 1,000,000 = 1,196,000 AFN
   1,196,000 / 4 years = 299,000 AFN
   299,000 AFN / 12 months = 2,4196.67 AFN

## نمونه ئي ازموينه

**لومړی لوست:دپور غوښتلو د مفهوم درک کول یا په پور د پیسو غوښتل پول (Concept of Borrowing Money)**

**نوم :___________________**

**مطابقت ورکول**

**لارښوونه:** اصطلاح مطابق په صحيح ځواب سره وراندې کړئ. د اصطلاح تورى نظر په تعريف دهغې سره وليكئ.

.

| | |
|---|---|
| a. add-on interest په سود اضافه کول | e. credit rating ، د اعتبار ميزان |
| b. simple interest ساده سود | f. lender قرض یا پور ورکونکي |
| c. interest in advance مخکې له مخکې سود ورکول | g. collateral تضمين یا ضمانت |
| d. percent per month فيصد یا سلنه په مياشت کي | |

________ ۱ له هغه نهاد یا موسسي نه عبارت ده چي قرضي یا پورونه د سود په مقابل کي ورکوي.

________ ۲ سود يوازې د هغه ورځو په مقابل کي چي پيسي په هغې کي تراستفادي لاندې نيول شوي وي اخستل کيږي.

________ ۳ جنس ګرو ورکول شوي ترڅو چي قرض یا پور په لاس راوړل شي.

________ ۴ سود او اصلي پيسي په مساويانه توګه د قرض ياپور په دوران کي ورکول کيږي.

________ ۵ د سود غوښتنې د قرضې له پيسو نه منفي کيږي.

________ ۶ د يو شخص له ثبوت نه عبارت دی چي د قرض یا پور د بيرته ورکولو توانايي او ميلان ولري.

________ ۷ سود د مياشتي په اساس محاسبه کيږي.

**تش یا خالي ځایونه ډک کړئ: لاندې جملې تکميلي یا بشپړي کړئ!**

1. ________ ستاسي په نيکل نوم او شهرت نه عبارت دس.
2. مياشتنی بوديجه معمولاً د قرض ورکونکي تر بيا کتنې لاندې نيول کيږي ترڅو چي ________________ تعين او تشخيص شي.
3. کله چي يو بانک ستاسې قرضونه ياپورونه تصفيه او اداره نه کړي، هغوي ________________ پلوري.

4. د سود غوښتنه د قرضې یا پور لپاره په شکل د __________ __________ __________ سره ذکر کیږي.

5. __________ __________ قرض یا پور ورکونکي موسسي او اداري په محفوظ ساتلو سره په هغه صورت کي چي تاسې قرضه ورکړي وي نه شي پرداخت کولی.

**لنډ ځواب: لاندي سوالونو ته ځوابونه وړاندې کړئ!**

1. دقرضي یا پور د ښه میزان کولو په خاطر کومي مرحلي یا پړاوونه باید په نظر کي ونیول شي؟

2. که چیري تاسې ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ د قرض یا پور په شکل د ٤ کالو لپاره په ٤،۹ فیصده یا سلنه سود واخلۍ، تاسې میاشتنۍ بیرته ورکړه په هغه صورت کي چي په سود باندې زیاتونه(add-on interest) وي، څومره به وي؟

TM: 1-1

## CHARACTERISTICS OF A GOOD BORROWER

د قرض یا پور اخستونکی ښـي ځانګړتیاوي

- شخصیت
- موقف یا مالی حالت.
- د بیرته ورکولو ظرفیت
- د قرض یا پور مصونیت

## CHARACTERISTICS OF A GOOD LENDER

د قرض يا پور ورکونکي ښـي ځانګړتياوي

- شخصيت
- د قرض يا پور ورکول ښـي پاليسـی
- د قرض يا پور ورکونکي نهاد يا اداري اجرات .
- د قرض يا پور مصرف يا قيمت.

## STEPS IN ESTABLISHING A GOOD CREDIT RATING

## په درجه بندۍ کي د ښه اعتبار دتاسيس مرحلي يا پړاوونه

- د بررسۍ حساب خلاص کړئ ترڅو ، ستاسې توانايي د تنظيم او پيسو نه په استفاده کولو کي وښودل شي.
- د پس انداز يا ګټي حساب خلاص کړئ ترڅو ستاسې ښه سوابق وښودل شي او د بانک لپاره تضمين برابر کړئ.
- جنس يا شي د تادياتو د قسطي حساب په توګه واخلئ ترڅو د تساسي د تاديه کولو ميالان وښودل شي.
- د ګازولين کمپنۍ يا د ذخيرو رياست ته د کريديت کارت په خاطر غوښتنليک ورکړئ، وړي، وړي اخستنې ولرئ ترڅو بيرته ورکول په معين وخت سره سرته ورسيږي.

WS: 1-1

**COMPARING CREDIT APPLICATIONS**

**د اعتبار (قرضه) د غوښتنليکونو مقايسه يا پرتله کول**

**مقصد:**

١ - ترڅو چي زده کونکي د قرضي يا پور د غوښتني په هکله په معلوماتو باندې پوه شي.

**کاری طريقه يا پروسيجر:**

١ - د قرض يا پور غوښتلو يوه فورمه له بانک ، قرضونو د اتحادي څخه او کريديت کار ت په لاس راوړئ.

٢ - دا ټول غوښتنليکونه په ټولګي کي يو له بل سره مقايسه يا پرتله کړئ.

**سوالونو ياپوښتنو ته ځوابونه وړاندي کړئ.**

١ - د قرض يا پور په ورقو کي د غوښتنې عمده کټګورۍ کومي دي؟

٢ - په هريوه غوښتنليک کي څو سپارښتونه مطالبه شوي دي؟

٣ – اداره يا نهاد ولي په مياشتنۍ خالص عايد کي دلچسپي لري؟

۴ - ولي بانک تاسې ته ستاسې حسابي معلومات درکوي، له دي کار څخه موخه يا هدف څۀ شی لري؟

WS: 1-2

د سود د غوښتنو محاسبه کول

**مقصد يا هدف:**

الف ) ترڅو زده کونکي وکولی شي چي د سود غوښتنې مطالبات زده کړي.

ب ) ترڅو چي د سود نوعي يا تګلاري زده کونکي جلا کړي.

**کاری طريقه يا پروسيجر: دلاندې معلوماتو نه په استفادي سره د سوالونو يا پوښتنو لپاره ځوابونه وړاندې کړئ.**

1. تاسې ۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ د یو کال لپاره په ۸،۹ فیصده سود سره قرض یا پور اخلۍ او بانک هم ساده سود(simple interest) لري. که چیري تاسې قرض یا پور له میاشتي نه وروسته ورکړی وي څومره سود باید ورکړئ؟

2. ستاسې میاشتني تادیات به څومره وي که چیري قرض یا پور په سوال کي د سود زیاتیدونکی (add-on interest)په شکل سره محاسبه شوي وي.

3. که چیري په لومړی سوال کي بانک د مخکې ترمخکې سود(interest in advance) په اساس محاسبه کړي وي څومره پیسي به تاسې ته درکوي؟

WS KEY: 1-2

## FIGURING INTEREST CHARGES

## د سود د غوښتنو یا مطالبو محاسبه کول

ځوابونه:

1. 500,000 × .089 × 3 ÷ 12 = 11,125 AFN

2. 500,000 × 1.089 ÷12 = 45,375 AFN

3. 500,000 – (500,000 × .089) = 455,500 AFN